
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۲/۱۲/۱۰

# د پردیسي بلبلي مړینه



د دويم يا دريیم ټولګي زده کوونکی وم. خپلوانو کره واده و. هغه مهال نه دا غضب مړی ډايک او مايک ول او نه چا پیژندل. د انګړ منځ کي به میرمنو له دایرا سره په ارامه سندرې ویلي او د ټولو غړونو حقوق به، د انګړ د دیوالونو په منځ کي خوندي ول. دوه زړو میرمنو دایرا را واخیسته او دا سندره يي شروع کړه:

**زه به جارو کړم زیارتونه، شینکي بابا**
**که مي قبول کړې دا سوالونه په تورو څنو...**

دي سندرې داسي جذب کړم چي غیر ارادي مي ور سره زړه کي بدرګه کوله.

کلونه کلونه وروسته مي همدا سندره له راډیو واوریده، دا غږ له هغه پخواني هم ډیر پوست او خوږ و او دا د میرمن قمرګلي له حنجرې را څڅیده. بیا چي مي د رحمان بابا کلام (چي مي مینه خدای په تا باندي پیدا کړه...) ترې واورید؛ نور يي هم جذب کړم.

او د حمزه بابا د دي کلام ترنم: (راځه چي یوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کي ...) خو به يي بیخي د خیالاتو په ځنګلونو کي ورک کړم.

یو وخت مي د دي په اړه لوستي و چي له خپل خاوند مرحوم زاخیل سره هندوستان ته لاړه. هلته چي د دي غږ د زاخیل هارموني بدرګه کړ، نو د موسیقی د وطن (هندوستان) په کوربنو يي دومره اغیز وکړ چي همدلته د پاتي کیدو او هندي تابعیت اخیستلو وړاندیز يي ورته وکړ. خو دوی رد کړ او ویل يي چي له خپل وطن پرته يي ګوزاره نه کیږي.

دا نو هغه وخت و چي وطن کي ( سره بادونه ) نه ول الوتي. وطن د سکون زانګو و.
بیا چي راوالوتل او بیا د وطن ګلورینه فضا نوره هم توپاني شوه او هیڅ د آرامښت قریني نه ښکاریدې؛ نو دا بلبله هم له خپلي ځالي په ډکو سترګو والوته.

د ګاونډ په ونه کي کیناسته، هلته د خپلي ونې پر (پرې کړې څانګې) ناستي هم خوند ورنکړ. بیا يي له هغه ځایه هم پرواز وکړ. له اوو غرونو واوښته. په کاناډا يي سر ولګیده او دا دی هملته په جلا وطنی کي ترې روح والوت.
رب دي مغفرت ور نصیب کړي.

۱۴۰۱، لیندی ۱۹
نعمان دوست



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ